# د بلوچستان آذادی منشور

## آذادی ،جمهوریت ،عدالت

### سریزه

د بلوچستان پلرنی ټاټوبی بلوچستان دی مګر تر اوسه بلوچانو د خپل هیواد واکمنان نه دی دسختو حوادثو یو خنځیر ډول ثخه نولسمه او شلمه پیړۍ کی امپریالیستی اشغال او جګړه د بلوچستان طبیعي پرمختګ او د بلوچ خلکو د خپلی راتلونکی برخلیک ټاکلو مخه ډب او تحریف کړه۔

د بلوچستان تاریخ کی یو ثرګند ټکی دا دی چی شپاړس سوه شپږ شپیته میلادی کال کی مختلف بلوڅ خپلواک واحدونه سره یو موټی شول ملی یوالی یی وکړ او یو واحد بلوڅ ملی دولت رامنځته کړ۔بلوچ ملت له دی شیبی او ملی یووالی وروسته ګاونډیانو او نوری نړی سره دوه اړخیزی د ډیپلوماتیکی اړیکی جوړی او پیل کړی۔

د بلوچستان تاریخی او جغرافیایی پولی اتلسمه پیړی کی د بلوڅ سیاسی مشر او واکمن میر نصیر خان بلوچ له خوا چی د نوری نصیر خان په نامه هم یادیژی کښل شوی وی۔۱۷۴۹/۱۷۹۴ برطانوی امپراتوری د اتلس سوه نهه دیرش میلادی کال د نومبر په دیارلسمه د بلوچستان خبلواک دولت باندی یرغل وکړ او وروسته برطانیا د خپلی استعماری پالیسی په پایله کی چی (وویشه او حکومت وکړ) اصل باندی ولاړ وه د بلوچستان خاوره په دریو برخو وویشله ۔

په اتلس سوه یو اویا میلادی کال کی یی د ګلدسمید په نوم یوه خپل سری کرښه رسم کړه او دی کرښی سره یې د بلوچستان لویدیځه برخه ګاجر سلطنت ته ورکړه۔ په اتلس سوه دری نوې کې یې د یورنډ لاین په نوم یوه دویمه کرښه رسم کړه چی د بلوچستان شمالی برخې افغانستان ته ورکړل شوې۔ دا منصوعی پولې د بلوچ ملت ګټو هوساینی او خوښی په خلاف رسم شوی دي۔

د ګجر سلطنت له خوا لویدیځ بلوچستان اشغال په نسبی لنډ مودی لپاره و۔ شلمی پیړۍ په لومړی لسیزه کی دی سلطنت په بلوچستان خپل تسطه له لاسه ورکړل او بلوچانو یي واک تر لاسه کړ۔ په نولس سوه شپاړس میلادی کال کی برتانیې بلوچ سیاسی مشران د لویدیځ بلوچستان د واکمنانو په توګه په رسمیت و پیژندل مګر په نولس سوه اته ویشت میلادی کال کې ایرانی فوځونو چی رضا خان یي مشری کوله په لویدیځ بلوچستان یرغل وکړ او ددی سیمی کنټرول یې تر لاسه کړ۔ خو تر اوسه پوری بلوڅ ملت هیکله د خپلواکی لپاره خپلی مبارزی ثخه لاس نه دی اخیستی۔ ۱۹۲۰ لسیزې لومړیو کی یي د برتانیی ثخه د بشپړې خپلواکی تر لاسه کولو لپاره یوه سیستماتیکه منظمه ملي او سیاسی مبارزه پیل کړه۔ د بلوچستان خلکو د نه دریدونکی مبارزه له امله بلوچستان ۱۹۴۷ کال د اګست په یوولس د ختیځ بلوچستان ثخه د برتانویانو له وتلو وروسته خپلواک شو۔

د بلوچستان د خپلواکی خبر په نوی ډهلی کی اعلان شو او د نیویارک ټایمز د همدی کال د اګست دوولسم تاریخ ګڼه کی یي راپور چاپ شو۔ د بلوچستان عوامی مجلس لخوا د ۱۹۴۷ کال د دسمبر له دوولسمی تر پنځلسمی نیټي پوری ناستو کی د بلوچستان خپلواکی اعلامیه د رایو په اتفاق سره تصویب شوه۔د بلوچستان مشرانو جرګی هم خپلو ناستو کی چی د ۱۹۴۸ کال د جنوری له دویمی تر څلورمی نیټي جوړی شوی وی۔د ولسی جرګی حکم تایید کړ۔

د پاکستان اسلامی دولت ۱۹۴۷ کال اګست څلوارلسم باندی مصنوعی توګه جوړ شو د پاکستان دغه نوی دولت رامنځته کیدل په هماغه اوله ورځ بلوچستان خپلواکی لپاره یو ربښتینی ګواښ جوړ شو او د ګواښ يي له خپل جوړښت یوازی اته میاشتي وروسته عملی او ثابت کړ د ۱۹۴۸ کال د مارچ په اوه ویشتمه يي د بلوچستان خپلواک دولت باندی فوځی یرغل وکړ او په زور سره يي اشغال کړ۔

دا اشغال د خلکو د اذادی خپل سرنوشت ټاکلو او حکومت کولو نړیوال منل شویو اصلولو او حقونو خلاف کار وه ۔د دی حقونو او اصلولو د پښو لاندی کول او اشغال لاندی ظالمونو په وجی سره اوس بلوچ ملت د دی ظالم قدرتونو په وړاندی یوی متحده ولسی مبارزه ته اړ ویست۔ د هغوی د موکراتیکه مبارزه پر مخ روانه ده او یو مهم حساس او تاریخی پړاو ته ننوځی۔ د هری ورځی په تیریدو سره د بلوچستان اولس لاویښیړی او هغوی کی د خپلو حقونو په اړه شعور راځی۔

په عمومی توګه هغوی په دی پوه شول چی د اشغال ظالمونه د دوی موجودیت او ملت ته ګواښ دی د بلوچستان ولس په دی پوهیږی که د اوسنی اشغال پر وړاندی و نه دریږی نو ورو ورو به له منځه ځی او اخیر کی به خپل هیواد او پلرنی خاوره کی په یو اقلیت بدل شی۔

د بهرنیو نیواکګرو دولتونو د تسط لاندی د بلوچستان اقتصادی بلوچ ټولنه او د بلوچستان سیاسی تعلیمی او حقوقی بنسټونه د تباهی تر حده وروسته پاته دی پر بلوچستان استعماری واکمنان خپل خیالی عقاید تحمیل کوی او دتیرو بلوڅ نسلونو بصیرت او پوه له منځه وړی ا کړنی د بلوچ کلتور ،ژبي ،ادب،رسنیو،موسیقی ،هنر او د بلوچستان اخلاقی او ټولنیزو پرمختګ مخه ډب کړی۔

سربیره پردی اشغالګرو قدرتونو بلوچستان په یوی پراخی او لويي پوځی اډی بدل کړی او بی شمیره دولتی زندانونو يي پکی جوړ کړی دی نو په دی توګه يي بلوچستان د وارداتی جهادیانو، مذهبی سخت دریځو او لوټمارانو چی دولت ملاتړ ورسره دی د لوبو په لوبغالی او غوبل بدل کړی دی۔ د یرغلګرو دولتونو ارګانونه د مجازاتو له ډار پرته په ازاده توګه هر څوک يي چی زړه وغواړی تعقیب او محاکمه کوی۔ د دوی ناروا قدرت استعمال کوم حد نه لری۔ او د خپل میل په زور يي بلوچان هر وخت او هر ځای کی نیولی۔ شکنجه کړی يي دی او جیل ته يي اچولی۔ او وروسته يي په ډزو سره وژلی دی۔

د دوی لخوا په نبنه شویو او قربانیانو کی زیاتره د بلوڅ ټولنی لوستی، باشعوره او فعال غړی دی۔ چی دی قربانیانو کی د بلوچو زده کوونکی، شاعران،کاګران،بزګران،دوکاداران،لیکوالان،هنرمندان،ډکټران،عالمان،ښوونکی،دپوهنتون استادان او سیاسی مشران شامل دي۔

ان د دی اشغالګرو دولتی ارګانو نو له غچ او وحشت ډکو جنایاتو او کړنو څخه د بلوچستان سپین ږیری اتباع او ماشامان هم خوندی نه دی۔

بلوچو سیاسی او بشری حقونو مدافع فعالان د منځنیو پیړیو په شان شکنجوی سره مخامخ دی۔ او هماغه رقم شکنجه کیږی ډیری برخه بلوچ قربانیان بیخی ورک شوی دی چی وروسته یې هیڅ نښه نه ده لیدل شوی۔او دغو قربانیانو کورنیواو دوستانو سره د یو دایمی غم ،ویری، او یو نارامه حالت کی ژوند کولو پرته هیڅ بله چاره پاتی نه ده۔

خو داشغال دې ویری او ترهی سره په څنګ کی د بلوچو سنتی دودونه کمزوری او تت نشول او د بلوڅو ننني کلتور او فرهنګ کی لا هم حضور لری۔ سیکولریزم،اعتدال،اذادی،روشنفکری،اذادخیالی،د یو بل تر منځ زغم او سوله کی ژوند کول د بلوچ قوم ټولنیز او اخلاقی ارزښتونو اصلی عناصر دی او په تاریخی توګه دا ځانګړی خصوصیات بلوچو کلتور کی خورا د ارزښت وړ دی۔

بلوچ قوم په بنیادی ډول یو سیکولر ملت دی او د خلکو لخوا د رنګارنګ عقیدو او نظریو اختیارولو او هغی باندی عمل کولو ته اجازه ورکوی او درناوی ور ته لری۔د ژوند او اذادی حق د بلوچو دودونو او کلتور کی ځانګړی ځای لری او د امکان تر حده به دتقدس ځای ورکړل شي۔د حکومت لخوا ورکړل شوی د مرګ سزا به هیڅکله د بلوچو د اخلاقی او سیاسی کوډونو څخه ونه شمیرل شي او دا به د بلوچو روایاتو او کلتور خلاف عمل وی -

په لنډه توګه، بلوچو خلکو کی ټولی هغه ځانګړنی او ارزښتونه موجود دی کوم چی د یوی خځنده، دیمکراتیکی او متمدنی ټولنی پراختیا لپاره اړین ولری۔

همدارنګه د بلوچو هیواد د طبیعی منابعو بډایه سیمه ده او بلوچستان د نړی تر ټولو یو ستراتیژیک ځای کی پروت دی،دا یو هغه دهلیز دی چی لری پروت ختیځ او جنوبی اسیا د منځنی ختیځ او مرکزی اسیا سره نښلوی۔ بلوچستان کولای شی چی د یادونه سرشاره او غنی سیمو تر منځ یو تجارتی مرکز وګرځی او د توکو دتبادلی د ډیپو په توګه عمل وکړي۔د دغو سیمو او بهر نړی تر منځ نړیواله سوداګری به بلوچستان بې شمېره بندرونو په اساس تر سره شی چې د بلوچستان په ساحل کی شتون لری۔سربیره پر دی دا ساحل کولای شو د کب نیونی لپاره وکارول شی، د نورو سمندري خوراکونو د فارمونو او ودی لپاره هم تری ګټه واخیستل شی -

د بلوچستان پراخه ځمکه کی کولای شو چی کرنی،مالداری او صنعت ته وده او پراختیا ورکړو۔

د بلوچستان موقعیت او اقلیم د لمریزی،بادی او سمندری څپو څخه د انرژی پیدا کولو لپاره ډیر مناسب دی۔د دی سترو اقتصادی منابعو شتون کولای شی د بلوچستان په ختیک پرمختګ او وده کی دېره مرسته او کومک وکړی۔

یو نسبتا کم نفوس او د خپلو نهایي ډیر اقتصادی امکاناتو مقایسه د دی باعث ګرځی،چی بلوچستان به ډیر ژر د خورا شتمنو او خوشاله هېوادونو قطار کې ودریږی۔او دشتمن بلوچستان احتمالي رتبه به تر لاسه کړی۔

د یو اذادی او د موکراتیک حکومت لاندی،بلوچستان کولای شی یوی نسبتا لنډی مودی په ترڅ کی بدلون وکړی او په سیمه ک به تر ټولو عصری،شتمن او دیمکراتیک ملتونو څخه یو وشمیرل شی۔

د بلوچستان بې ساری موقعیت، طبیعی زیرمی، سیکولر کلتور او خلکو ته په پام سره هیڅ کوم لیل نشته چی د بلوچستان اقتصادی به داسی په خراب حالت پاتی شی۔

د بلوچستان غیر قانونی اشغال د اقتصادی پرمختګ په وړاندی د اصلی خنډ په توګه دی که ددی خاوری خلک له دی اشغال اذاد وای نو اقتصادی وده همدارنګه ټولنیز،سیاسی او حقوقی پرمختګ یې له ګاڼدیو هیوادونو څخه چنده زیات و دا د بلوچستان د خلکو حق دی چی د هر ډول غیر قانونی اشغال او بهرنی محکومیت څخه لری خپل سرنوشت وټاکی او د خپلې اوسنی او راتلونکی هوساینی او سوکالۍ په خاطر تصمیم ونیسی۔

هیڅ باخبره، انصاف خوښونکی، او دموکرات بلوڅ به په خپله خوښه د یوه استعماری ځواک لاندی هیڅکله هم د غلامی او اسارت ژوند خوښ نکړی۔

هر بلوڅ په خپل وطن کی د دویمه درجه اتباعو ذلت نه ډکه ضربه لیدلی او تجربه کړی ده۔

موږ اوس خپلو خلکو لپاره د بشپړه خپلکواکی او اذادی تر لاسونه کولو په عزم او هوډ کی متحد شوی یو۔له او د اذادی او د اذاد ملتونو ټولنی سره یو ځای کیدل نه علاوه به موږ هیڅ بل شی باندی راضی نه شو۔

یواځی دوباره خپله بشپړه خپلواکی تر لاسه کول او بیا بلوچستان کی یو ولسواک حکومت رامنځته کول د بلوچستان د هر وګړی بشپړه حقوق تضمینوی۔

دا منشور هغه لاربنود او تګلاره ده او د دې وړتیا لری چی په دی باندی عمل کوکو سره به موږ وتوانوی،د خپلو خلکو او هیواد لپاره دا ستر اهداف تر لاسه کړو۔

## لومړی فصل اساسی حقوق

**اوله ماده:** تر هغی چی بلوچستان په قانونی توګه اشغال وي نو د یو اذاد او دموکراتیک بلوچستان لپاره د اذادی مبارزه روا او په حق ده.

**دویمه ماده:** د بلوچو ملی مبارزه کی خپلو وګړو ته بنیادی ژوند کولو حق د دوی ساتنه او بقاء تر ټولو اساسی اصلولو څخه دي او د ټولنی ټولو وګړو ته د برابر حقونو ورکول اصل څخه رعایت کوی.

**دریمه ماده:** د بلوچو ملی مبارزه کی ټولو یو شان برابر دی. د چا اخلاقی برتری خپله یو مقصد او هدف دی نه دا چی دا د کوم بل هدف تر لاسه کولو وسیله وګرځوي. نو په دی اساس ټول مساوی او یو شان برابر دی.

**څلورم ماده:** د بلوچو ملی مبارزه یو سیکولر غورځنګ دی چی دولت او سیاست څخه د مذهب د بېلتون معنا دی. دلیل او منطق يې ځواک دی او کومه مشخصه مذهبی او ایډالوژیکی نظریه کی نغشتی نه دی.

**پنځمه ماده:** د مذهب، عقیدی او بیان اذادی د بلوچستان خلکو تر ټولو اساسی حقونو برخه ک راځی. هر څوک اذاد دی چی هر مذهب او هره عقیده وپالی خو په دی شرط چی مذهب او عقیده په نورو و نه تپی او نورو خلکو د مذهب او عقیدی اذادی لرلو کی خنډ جوړ نشی.

**شپږمه ماده:** د بلوچو ولسواکه مبارزه په واقعی معنا اذادی او بامفهومه خپلواکی لپاره ده. د حقیقت دا اصل چي د بشری تصور هیڅ حدونه نشته منی او په رسمیت يي پیژنی او هغه ته ارزشت ورکوی.دا غورځنګ داسی با ارزشته انسانی کرامت او کیفیت د بشریت د صفاتو څخه یو ګڼي. ځکه دا کیفیت د انسانی فطرت د فکر او بیاند اذادی بنسټ جوړوی موږ دی انسانی صفت ته ارزشت ورکوو او یوه اذاده او عامه ټولنه کی د غوړیدو لپاره به یي هڅی کوو.د تصور صلاحیتونه به هیچا له وجود نه اخیستل کیږی او هر ډول ړنده بنسټپالنه چې د انسانی تصور،عزم او فکر د هری ظلامه وسیلی له لاری محدودوی د انسانی فطرت او د هغی د اساسی حقوقو په خلاف به ګڼل کیږی. نو له دې امله د بلوچو ولسواکه مبارزه اذاد تصور،د فکر او بیان حق خپلو تر ټولو مهمو لومړیتوبونو کی بولي.

**اومه ماده:** د انسانی تصور لایتناهی افق به د خپل ماهیت لاندی د نظریو او عقیدو تنوع درک کړی. نو په دی اساس د بلوچستان ټولو اتباعو د فکر،او بیان اذادی مخالفت به د هغوی د اساسی حقونو څخه سرغړونه او د عدالت د اصلولو خلاف کار وی.

**اتمه ماده:** د ښځو او نارینه وو تر منځ مساوات د بلوجستان دیموکراتیک تحریک له اصلی اصلولو څخه یو دی. په اذادی او دموکرات بلوچستان کی به نارینهاو ښځهیو شان او قانون له مخی ټولو مدنی، اقتصادی، اجتماعی، فرهنګی، او سیاسی برخو کی ټولنیزو اذادیو او حقونو ته په مساوی ډول لاسرسی ولری.

## دوهم فصل

## د مبارزه ټولشموله میتودونه

**نهمه ماده:** د یو اذاد او موکراتیک بلوچستان لپاره د اذادی مبارزه ټول شمول دهدا د بلوچستان د ننته او بلوچستان بهر د ټولنی د هری طبقی سره تعلق لرونکو خلکو لپاره ده په دی کی بي له دی چی د چا سیاسی روابطو، قومی،نسلی سابقی او مذهبی او فکری عقیدو ته پام وشی ټول اذادی غوښتونکی سری ښځی او ماښامان پکی شامل دي۔

**لسمه ماده:** اذادی لپاره د بلوچو مبارزه د مبارزی د مختلفو لارو یوه مجموعه ده چی د اذادی او خپلواک بلوچستان تر لاسه کولو او د اذادی اخیستو لار کی د بلوچو او بهرنی قوتونو لخوا هر ډول مرستو ته ارزښت ورکوی او په ښه سترګه یي ګوری۔ د مبارزی نور فورمونو کی خپلواک سیاسی ګوندونه، سازمانونه، اتحاديي او نوری ټولنی کله د لکیوال اتحادیه، مدافع و کیلانو اتحادیه، ژورنالستانو اتحایه، د بزګرانو سازمانونه، دښځو ټولنی، د زده کوونکو سازمانونه او داسی نور شامل دی۔همدارنګ د فشار ډلو کی به د بشری حقونه فعالان، د چاپیریال ساتنی فعالان او د ریاست لخوا د قربانی شویو کورنیو وارثان شامل وی۔ د ځان د دفاع لپاره به د هستوی وسلو ضد فعلان، دجګړی ضد فعلان او د مدني نافرمانی سره نور فورمونه چي د مبارزی دفاع او ځان ساتنه کوی، شامل دی

**یولسمه ماده:** د اشغالګره دولتونو جعلی پارلمان کی ګډون ددی منشور د اصولو او روح خلاف کار دی، د اشغالګرو په خوښه چلیدونکو او د اشغالګره ادرو کی برخه اخیستل زموږ د اذادی اخیستو لار کی خنډ جوړیږی نو ددی لپاره کوم سازمان او شخص چي دا منشور تصویب کړی۔هغه به د پاکستان او ایران جعلی پارلمان نظام کي برخه نه اخلی۔

**دوولسمه ماده:** د اذادی لپاره هر ډول مبارزه به د نړیوال قوانینو چوکاټ کي کیږی او د بشری حقونو اصولو ته به پوره پام کیږی۔

## دریم فصل

## د سیاسی نظام مشروعیت

**دیارلسمه ماده:** د بلوڅ اذادی مبارزی نهایي هدف دا دی چی بلوڅ ملت سرنوشت د بلوچستان خلکو په لاسونو کی وی او خپلواک شی۔

**څوارلسمه ماده:** بلوچستان کی د سیاسی نظام نافذیدو ته حقوقی او اخلاقی مشروعیت د بلوچ ملت لخوا د اذادو او دموکراتیکو ټولټاکنو د پریکړو په اساس ورکول کیږی چی څارنه به یي د ملګرو ملتونه او نورو خلواکه ادارو لخوا کیږی او ملی او نړیوالی رسنی به دا هر څه وینی۔

**پنځلسمه ماده:** بلوچستان کی به تر هغه وخته هیڅ سیاسی نظام اخلاقی اعتبار او مشروعیت و نلری تر څو چی بلوچستان له اشغال څخه اذادی شوی نه وی۔بلوچستان کی به د ولسواکی استازی او خلکو حکومت هغه وخت قانونی مشروعیت ولری چی د بلوچو خلکو لخوا د سیاسی قدرت د تمثیل لا لاری رامنځته شی نه دا چی د بلوچو په نوم بل څوک وی۔

**شپاړلسمه ماده:** د اشغالگرو لخو اد سیاسی واک تپل شوی منفی جوړشت د بلوچستان خلکواکی ارادی ځرګندونه نه کوی بلکل ردوی يي. دا رقم ظالم سیاسی نظامونه د ولسواکی او اذادی سره هیڅ اړخ نه لګوی.

**اولسمه ماده:** د اشغال او محکومیت لاندی په ځرګنده د ولسواکی اصل تر پښو کیږی نو یوازی له استعمار څخه اذادی تر لاسه کول يي حل دی.تر څو پوری چی بلوچستان د اوسنی استعمار سیاسی حدونو او جغرافیوی پولو کی بند پاتی وی نو تر هغی به بلوچستان کی ولسواکی، عدالت او بشری حقونو ته احترام یو تش شعار وی.

**اتلسمه ماده:** مدنی او سیاسی حقوق هغه وخت یو ملت کی خپل مفهوم او معنا پیدا کوی چی دا ملت په ناقانونه توګه اشغال شوی نه وی او خلک يې پخپله په اذاده توګه د دموکراتیکی لارو جوړ سیاسی نظام څخه ملاتړ او پیروی و کړی نه دی چی دا نظام له بهره پری وتپل شی.

**نولسمه ماده:** تاریخی بی عدالتی او استثمار په بشپړه توګه نه شی اعاده کیدای.د حکومت هیڅ نظام او ډول نشی کولای چی ټولی هغه بی عدالتی چی یو ملت په تیرو کی هم تجربه کړی له منځه یوسی او یا غلبه پری ومومی.خو یو د موکراتیک سیاسی نظام چی د اذادی اصولو بشری حقونو رعایت، ټولنیز عدالت، مساوی فرصت، او موثرو اقتصادی اصولو باندی ولاړ وی کولای شی د بلوچستان ستونزی حل او درد يي دوا کړی.

## ځلورم فصل

## واقعی ولسواکی او سوله

**شلمه ماده:** د یوی واقعی ولسواکی د تضمین لپاره ضروری شرط د یوه د موکراتیک چاپیریال برابرول دی.دا موکراتیکه فضا د نورو عوامل تر څنګ د اذادو مطبوعات او رسنیو، خپلواکو قضايي ادرو، ازادو ټولنو او سازمانونو، مساوی اقتصادی فرصتونو، مساوی تعلیم او د څو ګوندی سیاست شتون څخه عبارت ده. تر څو چی د ټولنی کلتور، سیاست، قانون،اخلاقی اصول، ژبه، اقتصاد او چاپیریال د یو استعماری قوت تر اشغال لاندی وی هلته نشو کولی یوه واقعی ولسواکی پلی کړو. د لسواکی لپاره ددی ضروری ترکیب د نشتون په صورت کی به دا د ولسواکی تش نوم پاتی شی چی د اشغالګرو قوتونو لخوا به د فوځی اشغال او سلطې د پټولو لپاره د وسیلی په دوګه وکارول شی.

یوویشتمه ماده: د اشغالګرو هیوادونو د څیړنو لاندی ټول بلوڅ سیاسی بندیان باید ژر تر ژره او د څه قید او شرط پرته خوشی شی.

**دوویشتمه ماده:** د ملګرو ملتونو، ملی او نړیوالو بشری حقونو مدافع ادارو تر څارنی لاندی باید یوه کمیټه جوړه شي چی وکولی شي د ورکو بلوڅو د برخلیک په اړه څیړنه وکړي او دې جنایاتو کی ککړ ټول عاملین نړیوالی محکمی ته د عدالت لپاره ور په توګه کړی.

**دريتشمه ماده: دشخړو حل**

**الف:** تر کومه ځایه چې بلوچستان په ناقانونه توګه اشغال شوی، باید ټول اشغالګر ځواکنه بې له قید و شرط له دی خاوری ووځی کنه نړیواله ټولنه اخلاقي او قانونی دنده او مسوولیت لری چې دلته مداخله وکړي او د بلوچ خاوری اشغال ته د پای ټکی کیږدي۔

**ب:** د اشغالګرو ځواکونو له وتو وروسته باید نړیواله ټولنه د بلوچستان دولت سره د هیواد پولو ساتلو، قضایی او سیاسی ادارو جوړولو کي پوره مرسته وکړی۔

**ج:** د بلوچستان موقت حکومت به ۲۴ میاشتو کي عمومی ټاکنی کویاو سیاسی واک به د بلوچ ملت لخوا ټاکل شویو استازو ته لیږدوی۔

**څلرويشتمه ماده:** ټولو ملي او نړیوالو رسنیو، دبشری حقونو سازمانونو او مرستي رسولو ادارو ته به اجازه وي چې د اشغال شوی بلوچستان ټولو برخو ته بې له کوم محدویت لاسرسی ولری۔

**پنځه ويشتمه:** د جینوا څلورم کنوانسیون کي چې د اشغالګر دولت او د اذادیاخیستونکو غورځنګونو، وسلوالو شخړو په تړاو کوم اصول ټاکل شوی دا اصول باید دلته په بشړ ډول پلی شي۔

## پنځم فصل

### اساسي قانون او عدالت

**شپږويشتمه ماده:** د بلوچستان د موکراتیک جمهوریت به یو عصری، سیکولر او دموکراتیک اساسی قانون چمتو کوی، مني يي او عملی کوی به یي۔

**اوه ويشتمه ماده:** په اذاد بلوچستان کي به د دکتاتور نظامونو ټول ډولنونه په هره نامه او هره برخه کي چې وي سملاسی به در او باطل اعلان شي۔

**اته ويشتمه ماده:** د بلوچستان سیاسی نظام بنسټ به په ځانګړی توګه د شخصی اذادی، د فکر او بیان اذادی، یو ټاکل شوي حکومت او دي خلواکی قضایي په اصلولو ولاړ کېښودل شي۔په ریښتینی توګه ددی اصولو پلی کول به د بلوچستان خپلواک دولت لپاره دا یو تضمین وي تر څو د هر ډول دیکتاتور او ناټاکل شویو سیاسی نظامونه څخه وژغورل شی۔

**نهمه ويشتمه ماده:** د قانون په وړاندی د برابری فرمان به دبلوچستان اساسی قانون مهمه برخه وی ددی قانون له مخی به هیچاته اجازه نه وی چی د چا په کارونو کي لاسوهنه وکړي ا ودقانوني اجازی پرته د یو کس، شخصی حریم او جایداد د باندی یرغل وکړی۔

**دیرشمه ماده:** قاضايي اداری که اذادی او خپلوکي ونه نو انصاف ورکول، د امنيت ټنګښت،اجتماعی اذادی، تحفظ او دبیان اذادی به شتون ونه لري. په بلوچستان کي د پوره عدالت پلي کیدو په مناسبت به د بلوچستان قضايي خپلواک وي. خپلواکه قضايي نظام دحساب ورکول او کنټرول په مکانیزم عمل کولی شي چې دا به د استبداد، جبر،په غلطه او ناروا توګه د حکومت چلول او بی عدالتیو مخه ونیسي او د قانون په چوکاټ کي به خپلواکی یقینی وګرځوی.

**یودیرشمه ماده:** بلوچستان کی د عدالت او انصاف د خوندی ساتلو لپاره به قانونی محکمي په ښکاره او عادلانه توګه فعالیت کوی.

**دوه دیرشمه ماده:** د عادلانه ابتدایی محکمی پریکړو څخه ملاتړ او ساتنه بغیر له کوم رعایت د بلوچستان په ډیموکراتیک جمهوریت کي خورا د ارښت وړ ده. هر څوک چي د ناقونونه فعالیت په تور ونیول شو د یوی خپلواکه، عادلانهاو بی پری محکمی لخوا به د تور ثابتولو په خاطر پوښتنې ګرویږني تری کیږی.بی ګناهی اصل په ټولو تورنو یو شان د تطبیق وړ دی، د ځان دفاع لپاره لږ تر لږه په ضمانت خوشی کیدو حق به ټولو تورونو ته مساوی ورکول کیږی.هر تورن او تورنه دا حق لری چي خپله قضیه یوی عالی محکمي ته د بیا کتنی په موخه وړاندی کړی

**دری دیرشمه ماده:** په طبیعی ډول به عدل او انصاف بلوچستان کي د عدلی سیستم بنسټ جوړوی.د لومړنی اصول په توګه هیڅوک د خپلی قضیی قاضی نشی کیدلی.یوه سهی او ریښتینی عادلانه پریکړه هغه وخت کیدلی شي چي قاضی بی پری او خپلواک دریم ګړی شخص وی.د دوهم اصل په توګه هر څوک باید د خپلی بی ګناهی ثابتولو او د ځان څخه د دفاع حق ولری.له تورن کس څخه د ځان د دفاع او بی ګناهی ثابتولو حق اخیستل به د بلوچستان عدلی سیستم مخالف کار وی.

**څلور دیر شمه ماده:** په بلوچستان کي به هر کس ته تحفظ د یو قانون لاندی ورکول کیږی او دا قانون به هغو ټولو افرادو ته مساوی او برابر تحفظ ورکوی د کومو اذادی عمل چي د قانونی اقدام له امله نقص شوی وي نو قانون به یی پوره حمایت کوي د حمایت او تحفظ په دغو برخو کي د احقونه شامل دي .

**الف:** د ځان دفاع

**ب:** د قضيي تعيبول او يا د تجاوز په وړاندی مدنی حرکت کول

**ج:** د ناسم زندانی کیدو او نیول په غبرګون کي قانونی اقدام کول

**د:** تر محکمي کیدو پوری په ضمانت د خوشی کیدو حق، یا د محکمی لخو اد د دلایلو په ذکر کولو سره بیا نیول او احضار کیدل.

**پنځمه دیرشمه ماده:** د ژوند کولو حق د هر کس تر ټولو اساسی حقونو څخه شمیرل کیږی او دا حق باید له هیڅا وانخیستل شي، یو څوک په دار ځړول،اعدامول،ویشتل، دتشدد له لاری وژل یا هر هغه غیر انسانی ظالمانه کړنه چي په هغی د چا څخه د ژوند حق اخیستل کیږي دبشری اصولو خلاف کار دی او د بلوچو اخلاقی نورمونو او ارزښتونو باندی تیری دی. د بلوچستان د موکراتیک جمهوریت کي دا ډول غیر انسانی کړنی په کامله او قاطع توګه منع دي.

## شپږم فصل

## د تبعیض خلاف او مساوی فرصتونه

**شپږ دیرشمه ماده:** په یوازی اذادی او دموکرتیک بلوچستان کي به د اداری فساد په وړاندی یو قوی او غیر مصلحتی دریځ موجود وی او په ټولو کچو کي به یي د له منځه وړلو لپاره هڅه وکړی۔

اوه دیرشمه ماده: د یوی مسوله دولتی دستګاه اداری هغه وخت خپل کارونه او دندی په اغیزمه توګه تر سره کولی شی چي د خپلو مسوولیتونو ځواب ویونکی، شفافه او حساب ورکوونکی وی ۔دی موخی ته رسیدو لپاره د مرکز اداری او سیمه ایزو ادارو کارکونکی باید د اذادی سیالی او د هغوی د وړتیاوو په اساس و ټاکل شی۔سربیره پر دی ملکی کارکونکی باید خپلو دندو کي بي طرفه او غیرسیاسی پاتی شی ددی لپاره چي مختلفو ټاکل شویو حکموتونو کي چي بیلابیلی په نظریه به ولری کار وکړی۔

**اته دیرشمه ماده:** په اذاد بلوچستان کي به هر ډول جنسی،سمتی،عقیدوی،سوابقو، عمر او قومی تبعیض په وړاندی مبارزه کیږی ټول۔

مذهبی او قومی اقلیتونو به بلوچستان کي د نورو خلکو سره برابر مساوی حقوق ولری او په هماغه اندازه حقوق به ورکړل شی لکه ټول ملت ته چی ورکول کیږی۔دوی کولی شی په خپله عقیده عمل وکړی او خپله ژبه او دود دستور بر قراره ژوندی وساتی۔

**نهه دیرشمه ماده:** یو اذادی بلوچستان کي به د مساوی فرصت ورکول له اصولو سره سم عمل او فعالیت کیږي او ټولو اتباعو ته به د ښوونی روزنی روغتیا او حقوقی خوندیتوب ته د لاسرسی حق په مساوی ډول یو شان برابر ورکول کیږی۔د مساوی کاری فرصتونو د اصل پلی کول به په یو اذادی شفافه او حساب ورکوونکی ډول ترسره شی۔د کورنی تړاو اړیکو واسطی څخه به جدی ډډه کیږی چي پر ځای بی یی انفرادی وړتیا ته پام کیږی۔

**څلوریښتمه ماده:** بلوچستان دولت لپاره به زده کړه او پوهنه خپلو لومړیتوبونو کي وی۔د هلک ا وجینی شپاړس کلنی پوری زده کړه به اجباری او وړیا وی د بلوچستان دولت به د زده کړو په لار کی عملی ګامونه پورته کوی چی یو با ارزښته او سم تعلیمی سیستم رامنځته کړی او مطمین شی چی دا تعلیمی سیستم ټولو ماشامونو لپاره مناسب او د لاسرسی وړ دی۔د زده کوونکو جسمي او روانی توان ته به درناوی کیږی او د پرمختګ او ظرفیت لوړولو لپاره به دوی کي استعدادونو او وړتیاوو ته بشپړ لومړیتوب ورکول کیږی۔

## اوم فصل

## له اذادی وروسته

**یو ځلویښتمه ماده:** د بلوچستان خپلواک او دموکراتیک جمهوریت کې به تولنه زغم لرنکی،مدني او موکراتیکه وی چیرته به چي ټولو اتباعو سره د قانون په چوکاټ کې مساوی توګه یو شان چلند کیږی۔

**دوه ځلویښتمه ماده:** د بلوچستان دولت بی بشری حقونو رعایت،اذاد، دموکراسی او دقانون د حاکمیت پر بنسټ ولاړ وی۔ دا به د ولسواکه او شخصی اذادیو ټخه ساتنه کوي چي پکي د څو ګوندیزو اذادو ټاکنو کیدل، د حقونو لپاره د احتجاج کولو حق،د بیان او مطبوعاتو اذادی هم شامل دی، کوم چي د ملګرو ملتونو د بشری حقونو اعلامیی او نړیوال مدنی او سیاسی تړون کی له هغوی ټخه ذکر شوی دی او ملاتړ په تری کوي۔

**دری ځلویښتمه ماده:** په بلوچستان کې به هیڅ حکومت مشروع او ولسواکه و نه بلل شي تر څو د اذادو او رڼو ټاکنو له لاری ونه ټاکل شي۔دهر ډول سیاسی نظام ستر قدرت په نهایی توګه د بلوچستان خلکو په لاس کی دی۔او یوازی د بلوچستان خلک د پټو رایو ورکولو له لاری کولی شی یو سیاسی نظام ته د مشروعیت ورکول پریکړه وکړی۔

**څلور ځلویښتمه ماده:** د یو اذادی او او خپلواک بلوچستان موخه داده چي د اساسی قانون له مخی یو پارلمانی سیاسی نظام تشکیل کړی۔داسی یو سیاسی نظام چې د اذادو سیاسی ګوندونو تر منځ د یو کس یوه رایه اصل لاندی اذادی او عادلانه ټاکنی تر سره کړی او دی سره سره د یو خپلواک قانونی سیستم په توګه کار و کړي۔

**پنځه ځلویشتمه ماده:** د بلوچستان ملي شورا(بلوچستانمزنین دیوان)به د بلوڅ ملت په لوړه توګه د دموکراتیکی ارادی څرګندونه کوی۔ دملي شورا غړی به د اذادو،ښکاره او رڼو ټاکنو له لاری ټاکل کیږی۔ملي شورا کې به د بلوچستان نارینه او ښځینه استازی شتون ولری۔

**شپږځلویښتمه ماده:** د بلوچستان ملي شورا به د حق،عدالت،عزت او دباور یو اوج منار وي۔ دا به بلوچستان کې په لوړه کچه هغه اداره وي چې به د بلوچستان د خلکو د موکراتیک حقوق تامینوی اود هغوی ساتنه به کوی۔دا به د هر ډول جابر سیاسی نظام پر وړاندی د خلکو د حقونو یو مدافع مورچل په توګه کردار ادا کوي۔

**اوه څلویښتمه ماده:** اجرائیه مدیران،لومړی وزیر،د کابینی وزیران، دملکی خدمتونو هئیتان او لوړپوړی چاراکی به په ګډه د بلوچستان دولت په استازیتوب فعالیت کوی.د دولت دا ټول چاراواکی به خپلو کړنو په اړه د بلوچستان ملي شور(بلوچستان مزنین دیوان ) ته او په پای کې د بلوچستان خکلو ته حساب ور کوونکی وی.

**اته څلویښتمه ماده:** یو بریالي او ولسواکه سیاسی نظام د یو حکومت څخه ټاکل شوی حکومت ته سیاسی قدرت انتقال لپاره یو اغیزمن او باثباته چینل ته اړتیا لري.بلوچستان کي له یو حکومت څخه بل منتخب حکومت ته د واک باثباته انتقال لپاره باید دا عنصر په پام کی ونیول شي.

**الف:** د بلوچستان دولت به د هغه ګوند لخوا رامنځته کیږی چي شورا کي یي اکثریت چوکی ګټلی وي.

**ب:** ملي شورا به خپله قانونی دوره پوره کوي او پای ته بی یي رسوی، د قانونی دوری له بشړولو مخکی د څه دلیل لی مخي هم د ملي شورا انحلال به د موقت اساسی قانون له مخی غیرقانونی وي.بي له دې چي دوه له دریو برخو ټاکل شویو غړی یي په اکثریت انحلال وغواړی او د شورا انحلال ته رایه ورکړي.

**ج:** ملي شورا به د قانونی مودی پوره کیدو وروسته د دولت رئیس له خوا د بیا ټاکنو کیدو لپاره منحل اعلان شي.د دی مادی ټول جزیات به بلوچستان موقتی اساسی قانون کي په بشپړ ډول تشریح شی.

**نهه څلویښتمه ماده:** د بلوچستان ملي اردو به د سرمچارو(د بلوچستان اذادی وسلوال تنظیمونه)د پیلابېلو ډلو څخه جوړه شی.د بلوچستان ملي اردو به ټاکل شوي ملکي حکومت په امر وظیفه سر ته کوي او ملکی دولت سره تړلی ارګان به وی،د اهدافو ویونکی اداری په توګه خپل اقدامات تر سره کوي او د بلوچستان دولت،قضائیه،قوه،مدنی،ټولنی او رسنی بی یی کړنی دقیقی تر څارنی او نظر لاندی نیسی.

د اردو اصلی دنده به د بلوچستان پولو ساتنه او د خاوری دفاع وي او بلوچستان وسلوال ځواکونو غړی تر هغی چي په نظامي خدمت بوخت وي په سیاسی، تجارتی او کسبی فعالیتونو کي د لاس لرلو څخه منع او حق نلری داسی څه فعالیت وکړی.

**پنځوسمه ماده:** له جواز پرته خپلسری وسلی ګرځول او هر ډول شخصی پوځی فعالیت کول غیر قانونی دي.

یو پنځوسمه ماده:د بهرنیو قدرتونو لخوا د بلوچستان نا قانونه اشغال په پایله کي ټولنه وویشل شوه.ټولنه کي د غیر قانونی نشه یي توکو استعمال او په زیاته اندازه د فساد شتون،مذهبی بنسټپالنه او نه زغم،قعطی،ساری ناروغی،او وبا سره نورو ناوړه ناروغیو د اشغال په نتیجه کي سرایت وکړود دی لپاره چي اوسنی ماته او دردیدلی ټولنه وژغوری او د تیر وخت کړاونه،اخلاقونه،اقتصادي او ټولنیز توپیرونه له منځه یوسی د بلوچستان دولت به مناسبی خپلواکی کمیټی رامنځته کړی.دا کمیټی به د مختلفو ټولنیزو ډلو تر منځ د اقتصادی سلامتیا او ټولنیز پیوستون په عمومی ډول د ښه کولو په خاطر د یوی مرجع په توګه کار کوي.د تصمیم نیولو وخت پروسه کي به دې ټولنیز ډلو ته لازم واک او اختیار ورکول کیږی تر څو دوی وکولی شي د ټولنی د حالت په بدلون کي اقدام او په ټولنزه توګه لا ښه کولو کي کار وکړی.

## اتم فصل

### د بلوچستان مستقل دولت

**دوه پنځوسمه ماده:** په ځو برخو تقسیم شوی بلوچستان د برطانوی امپراطوری میراث دی.د بلوچستان اذادی مبارزي وروستی موخه داده چی د بلوچستان ویشل شوي خاوره یو ځل بیا د یو بلوچ هیواد سره یو ځای کړی او د یو واحد، ملی او خپلواک بلوڅ دولت تشکیل ته بشپړحاکمیت ورکړل.

**دری پنځوسمه ماده:** د بلوچستان دولت اساسی دندی او فعالیتونه عبارت دي له: له بهرنی تېری څخه د بلوچستان ساتنه، داخلی نظم او قانون ساتل، انصاف او عدالت ورکول د ټولنیزو هوساینی کارونو تر سره کول او بهرنی اړیکی برابرول او ساتل.

**څلورپنځوسمه ماده:** اوس مهال بلوچستان کی کومی بریالی کارنده اقتصادی او اجتماعی زیربناوی شتون نه لری. بلوچستان کې د اقتصادی او ټولنیزو زیربناوو د کمزوری دلیل لسګونه کاله ناقانون اشغال، استثمار، پانګونی کمی او نه شتون دی.د بلوچستان حکومت به دا یو غوڅ مسوولیت وی چي د بنسټیز جوړښت یا زیربناوو لپاره پلان جوړ کړی پراختیا ورکړی، اداره یې کړی او د ملاتړ ترځنګ یې موثر چاپیریال برابرولو سره دې زیر بناوو ته وده ورکړل.

همدارنګه به دا حکومت د موثرو کاری زیربناوو د ایجادولو،ودی ورکولو او ساتلو لپاره هڅی کوی. ددی زیربناوو تر ټولو حیاتی برخی به د مخابراتو، ترانسپورټ،د ذخرو و جوړول د انرژی تولید او عرضه کول،برېښنا او د برېښنا د شبکو جوړول د پاکو اوبو رسول او د روغتیا سانتی خدمتونه وی.داسی نوری کړنی چې باید لیست کې شاملي شی هغه بهد ساینس او ټکنالوژی،ټولنیزو،فرهنګی او قانونی ادارو باندی په منظمه توګه پانګه اچونه وی.دا بنیادی پرمختګ به خپل نوبت سره اقتصاد په ټولو څانګو کې د منابعو اغیزمن بسیج ډاډمن شی او وده به وکړي.په بلوچستان کې یو بریالی او د دوامداره اقتصادی رامنځته کول چې د دغه هیواد مدني ټولنی ته د ډاډ او اعتبار ور وي بالاخره د اقتصادي او ټولنیز بنسټونو تر منځ تړونونو او وصل پوری اړه لری.

**پنځه پنځوسمه ماده:** د بلوچستان ټولو اتباعو ته اجازه ده چی د هیواد هر ځای ته سفر وکړی د بلوچستان هره برخه کې پانګه واچوی او یا کار وکړی. هیڅ کس سره به د هغه سفر کولو حق د دندی اتنخاب د کار کولو ځای او د دوی د مسلک، وړتیا او مزدوری کولو حق په وړاندی ناسم او تبعیضی چلند ونشي.

**شپږ پنځوسمه ماده:** په بلوچستان کی ټولنی طبیعی منابع د بلوچستان خلکو پوری اړه لري.دا منابع به د بلوچستان دولت له خوا اداره او کنټرولیږي.او د بلوچستان میشتو ولسونو د سوکالی لپاره به دا منابع استعمالیږی او هیڅ بهرنی هیواد او ملت ته به ددی اجازه نه وی او حق به ورنکړل شي د خپلو ګټو د تامین لپاره دا منابع استخراج کړی.

**اوه پنځوسمه ماده:** د بلوچستان او نورو هېوادونو تر منځ به د بلوچستان ټولو طبیعی منابعو د استخراج بازارونو د بیو مطابق کیږي.

**اته پنځوسمه ماده:** د بلوچستان دولت دولت مسوول دی چې د ټولنيز امنيت او ټولنيزی سوکالی لپاره یو جامع دولتی سيستم ايجاد کړی دي کې به د روغتيا ملي خدمتونه، د هوسايني خدمتونو او د ناروغی او بی روزګاری اړوند مرستی شاملی وی.

**نهه پنځوسمه ماده:** د بلوچستان اذادی او د دموکراتيک دولت د ټولو بې وسه، غريبو، بي وارثه او ورته ټولنيزو ډلو ساتنه په خپله غاړه لري چي دې ډلو کې ماشومان، سپين ږيری، معووبين او نور ناتوانه کسان شامل دي.د بلوچستان دولت د دغو ټولنيزو ډلو د سياسی، اقتصادی او ټولنيز حيثيت ښه کولو او اقتصادی او سياسی خنډونو لرې کولو لپاره مسول دی تر څو و کولی شي د نورو وګړو په شان مساوی حقونو او فرصتونو څخه ګټه واخلی.

**شپيتمه ماده:** عامه خدمتونه په اغيزمنه، او مناسبه توګه برابرول به د بلوچستان حکومت له اساسي مسئوليتونو څخه يو وی. د دغو خدمتونو برابرول بايد پوره په ازاده او شفافه توګه وشي. حکومت به دی توکو او خدمتونو برابرولو کې له ملي بوديجي څخه د سو استفادي او يا مديريت څخه د سو اسفادې ځواب ويونکی وي او حساب به ورسره کيږی.

**يو شپيتمه ماده:** د بلوچستان خپلواک دولت مسووليت لري چې د عدالت يوه خپلواکه او علنی محکمه جوړه کړی تر څو تيرو لسيزو کې د ټولو ډلو او خواوو لخوا د بلوچستان خلکو په وړاندی هر ډول جنايت وڅيړي او هر هغه کسانو چې جرمونو کې برخه اخيستی او ښکيل وبلل شول، عدالت ته به وړاندی کيږی او ددغو جرمونو قربانيانو ته به حصاره ورکوی.

**دوه شپيتمه ماده:** د بلوچستان خلواک دولت به له پخوانی اشغالګرو هيوادونو څخه چې د بلوچستان طبيعی زيرمی يي لوټ او تالان کړی د جبران او حصاری غوښتنه وکړي.

**دری شپتمه ماده:** يو اذاد او دموکراتيک بلوچستان به په ملي سيمه ايزه او نړيواله کچه د سولی او د اقتصادی سوکالی لپاره پوره صداقت او ايمانداری سره هڅی او کار کوي. بلوچستان حکومت به نړيوالو بشری حقونو سازمانونو او ادارو سره چې د نړی د سولی لپاره کار کوي په فعاله توګه همکاری وکړي. خپلواک او ديموکراتيک بلوچستان په نړيوالو قوانينو او مقرراتو کلک او صادقانه باور لري او ټولو ګاونډيو هېوادونو سره سوله کې اوسيدل غواړی، دهغوی حقونو ته احترام کوی او دوه اړخيزی ګټو رر لاسه کولو لپاره به هغوی اقتصادی پرمختګ کي همکاری ته وهڅوی.

**څلورشپتمه ماده:** د بلوچستان دولت به هغو کورنيو ته ځانګړی بوديجه منظوره کړي مالي ملاتړ به يې وکړی کومو چې د خاوری او وطن اذادی لپاره ځاني قربانی ورکړي.

## نهم فصل

## ټولنه، اقتصاد او چاپیریال

**پنځه پشیتمه ماده:** د بلوچو ژبې بلوچي او براهوی به د بلوچستان ملي ژبې شمیرل کیږی او دویمي رسمي ژبې په توګه به انګلیسی رسمي ژبه وي چې نړیوالو اړیکو او نړیواله کچه معاملو کې به ترې کر لکار اخیستل کیږي .

**شپږ شپیتمه ماده:** بلوچستان به په یو ګډ او مخلوط اقتصاد عمل وکړی چې د اقتصاد ټول خصوصي عامه دولتي او رضاکاره سکتورونه به د دې خاوری د قانونی چوکاټ سره سم د بلوچستان ټولو اتباعو ته په مساوی توګه د ښه خدمت ورکولو په موخه فعالیت کوی.

**اوه شپیتمه ماده:** ما چوکین بلوچانی"د بلوڅ اذادی مبارزې سرود دی. او خپلواک بلوچستان ملي سرود به د موقت حکومت او د لومړي ټاکل ملي شورا له خوا غوره او تصویب شي.

**اته شپیتمه ماده:** بلوچستان د اذادی مبارزی بیرغ چې په زیاتیدونکی یا مخ په ودي توګه تصویب شوی د دری برخو څخه جوړ دي.د بیرغ نیولو یا لښته کې بندولو له طرفه یو ابي مثلث دی چې منځ کې یي سپین ستوری دی او د مثلث په امتداد سره دوه مساوی پټی غځیدلی چې دوو رنګونو څخه تشکیل شوی دي. پور ته پټي یي سور او کوزه پټي یي زرغون رنګ لري.د بلوچستان لومړني ملي شورا به د بیرغ په اړه تصمیم نیسی او پریکړه به کوي.

**نهه شپیتمه ماده:** یو خپکواکه بلوچستان باید خپلو مشروع تاریخي او جغرافیایي پولو ته چې د بلوڅ میر نصیر خان خپلواک دولت په وخت کې تعین شوي ورسیږي.

**اویایمه ماده:** د نومبر دیارلسمه نیټه به د خپلواکي تر لاسه کولو او د اذادی په لار کې د سر ښندونکو اتلانو د قربانیو یاد ورځی په توګه و ټاکل شي. ځکه اتلس سوه نهه دیرش میلادی کال کې چې میر محراب خان او ګڼ شمیر سر تیرو یې بلوچستان باندې د برطانوی امپراطوری د فوځی یرغل په وړاندې جګړه کوله نو خاوری د دفاع په خاطر یې سرونه قربان کړل.

**یو اویایمه ماده:** هیڅ ټولنه نشی کولای چې د نورو ژوندي موجوداتو حقونو او سوکالی ته د پاملرنی او درناوی ورکولو پرته په یوه انسانی او متمدنه توګه فعالیت وکړي.یوه اذاد او دموکرتیک بلوچستان کې به د بلوچستان حکومت دا باوری کړي چې د ټول ښاروپو سره چلند به د ښارویو حقونو د نړیوالو کنوانسیونونو او تړونونو سره سم کیږي او دا اصل به ساتل کیږي.

**دوه اویایمه ماده:** خپله ځمکه او خاوره د مور مثال لري چې د هغی نشتون صورت کې به نژادی ډولونو او تمدن کومه مانا نه لرلی، او مور بې له شکه خپل طبیعی چاپیریال پسی تړلي یو. د بلوچستان دولت او اتباع به د خپل طبیعی چاپیریال ساتنی درناوي او هغه باندې پام ساتلو لپاره پوره زیار وباسی.

**دری اویایمه ماده:** د خپلواکی تر لاسه وروسته به په عاجل ډول بلوچستان کي د ټولو اټومی فعالیتونو د بشپړ لري کولو او له منځه وړلو لپاره اقدام پورته شي.په بلوچستان کې اټومی ازمويني د بلوچستان د خلكو د دغوښتنو پر خلاف او د هغوی له رضايت پرته تر سره شوی دي.

پاکستان د نولس سوه اته نوي کال د می په اته ويشتمه د بلوچستان چغی ولسوالی  د راس کوه غرونو سلسله کې خپلی اټومی ازمويني تر سره کړی له ملګرو ملتونو سازمان به و غوښتل شي چې د بلوچستان ددي سيمی په چاپيريال او خلكو باندی د دی ازموينو د اثراتو او اغيزو په اړه خپلواکی څيړنی وکړي،په زهرجنو او راديو اکتيو موادو ككړې سيمی پاکی کړی او چاپيرياِل ته د اوښتی تاوان او دی سيمه کې اوسيدونكو خلكو باندی ددی وړانګو د تاثير  او زيانونو په اړه ساينسی خپلواکی څيړنی وکړي.کوم دولت چې بلوچو خلكو باندی دا ناروا ظلم او جنايت تر سره کړي بايد نړيواله جنايي محكمه کې ځواب ووايي او عدالت ته به كش شي. کوم دولت چې ددی جنايت مجرم او مسوول وبلل شو بايد دې پيښه کې اغيزمنو کورنيو ته تاوان او حصار ورکړه.

**څلور اويايمه ماده:** د فشار ډلو شتون به ټولنه کې د تنوع او بيلابيل والی يوه ښه نښه وي، دا به د اذادی بلوچستان يوه مهمه برخه جوړيږی.د هغوی فعاليت به قانونی ګرځی، د ټولنی ضروری څار او بدلون لپاره د خوځنده ځواکونو په توګه به د دولت لخوا په رسميت و پيژندلی شي.

يو ډموکراتيک بلوچستان تنوع په رسميت پيژنی او دهغی د نصوصو او تقدس ملاتړ کوي.

**پنځه اويايمه ماده:** خپلو کارونو کې د خواريکښ ماهر او بامسول عوامو پرته هيڅ ټولنه يا ملت نشی كولای ژوند وکړی او صنعتی پرمختګ وکړی. کار کول پخپل ذات کې د ستايني او تقدير وړ عمل دی نو په دی دليل به د بلوچستان خپلواک دولت کې د کار کولو اخلاقی اصل د بلوڅ کلتور او ټولنيز نظم شرعی اصول و ګرځوی شي. دا اصل به د اقتصاد په ټولو برخو کې د يو لاړښود اصل په توګه عمل کوی.

## لسم فصل

## موقت اساسی قانون

**شپږاويايمه ماده:** د دی منشور له نافذيدو وروسته به  دبلوچستان موقتی اساسی قانون مسودی تيارولو لپاره يوه د ماهرانو کميټه تشكيل شی.دی اساسی قانون کې ب د بلوچستان خلكو  هغه اساسی حقونو او مسووليتونو ته ځای ورکول شي د کومو يادونه چي دي منشور کې شوی.موقت اساسی قانون به حالاتو او شرايطو ته په پام سره د بلوچستان بې سارې تاريخ، کلتور او د نوی دموکراتيک دولت لپاره مترقي عناصر راټول کړی کوم چې د يوی عصری دولت لپاره اړين دي.

**اوه وايايمه ماده:** موقت اساسی قانون به د تصويب لپاره د بلوچستان ملې شورا (بلوچستان مزنين ديوان)ته وړاندي شي تر څو د بحث او نظرونو تبادلی وروسته تصويب شي.

باشعوره بې کبرى او عاجزى زمونږ لاښود ځراغونه دي۔ نو د دى په خاطر دا سند ادعا نه کوي چې غلطى او نقص به خالي وي۔دا د ټولو وختونو او ټولو ځايونه لپاره يو نړيوال لارښوود او نسخه نه ده۔ دا يواځى د بلوچستان خلکو لپاره يو پلان او لارښود دى چې خپل دموکراتيک حقوق اذادى او خپلواکي تر للسه کړى ـــ د بلوچستان اذادى مبارزين۔

**يادونه:** دي منشور کې هغه مادي چې د هغو تړاو د بلوچستان اذادى او له اذادى وروسته د يو کس يوي رايي په بنياد د يو جمهورى نظام رامنځته کول دي د هيڅ بدلون او سمون وړ نه دى۔

**نورو باقي مادو کې د ښوونى،ښه والي او بيا ترميم کولو ګنجايش شته۔**